# د سسمی ملګري

ښايي دا به اسانه (يا ساده) ښکاري، مګر رنګول هم له ماشومانو او هم له لويانو سره د سترس په کمولو کې مرسته کولای شي. او په ګډه رنګول له تاسو سره مرسته کولای شي تر څو له خپلو ماشومانو سره مهم مفاهيم شريک کړئ، پرته له دې چې کوم څه ووایاست: موږ په يوه ټيم کې يو. موږ به په ګډه يو ښه وخت ولرو. زه دلته له تاسو سره يم. زه غوږ نيسم. زه تا ته لېواله يم. موږ خپل احساسات شريکولای شو. موږ يو ښکلی شی جوړولی شو، ان که زموږ په شاو خوا کې نړۍ د وېرې او توپير احساس هم راکوي.

ماشومان همدارنګه کولای شي د سسمی ملګرو تر څنګ خپل ځانونه رسم کړي. خلاقانه بيان کېدای شي د خپلو احساساتو د څرګندولو لپاره يوه عالي لار وي، پرته له دې چې کوم څه ووایاست.





©سسمی همه حقوق محفوظ است.